جمهورية مصر العربية ١٩ صفر ١٤٤١هـ
وزارة الأوقاف لغة البشتو ١٨اكتوبر ٢٠١٩م

(1)

**د الله تعالی ذکر او د انسان د نفس په برابری کې د هغې اغیزې**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکې دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: « الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ »**ژباړه:« همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چې (ددې پېغمبر بلنه ) یې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په یاد سره ډاډینه ور په برخه کېږئ. خبردار اوسئ! همدغه د الله یاد هغه شی دی چې زړونو ته ډاډینه ورپه برخه کوي.»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

ډیرو درنو مسلمانانو ورونو لکه څنګه چې الله جل جلاله مونږ او تاسی پیدا کړي یو او د پیدایښت سره سم مونږ او تاسو ته پدي باندي امر کړی دی چې د هغه بندګي وکړو او د بندګي ترڅنګ د هغه ذکر او د هغه یادونه ډیر زیات وکړو نو د همدي لپآره الله جل جلاله د هغه چا لپآره چې د هغه ذکر کوي او د هغه یاد همیشه زړه کې ساتي د لوي اجر وعده ورکړی دی لکه چې الله جل جلاله پدې هکله فرمایي:« { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا * وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا »ژباړه:« اې مومنانو الله ډېر ډېر یادوئ.* او سهار او ماښام د هغه تسبیح کوونکي اوسئ.»او په بل ځاي کې فرمایي:« وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا»ژباړه:« او د الله ډېر ډېر یادوونکي نارینه او د الله یادوونکي ښځي، دا (لس واړه ډوله) خلك هغه کسان دي چې الله د هغو

لپاره ښښنه او لوی اجر تهیه کړی دی»اوپه بل ځاي کې فرمايي:«إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ *الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ *أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ»ژباړه:« رښتيني مؤمنان هغه دي چي زړونه يې د الله د ياد په اورېدلو لړزيږي. او کله چي د هغو په وړاندي د الله ايتونه لوستل کيږي، نو د هغو ايمان زياتيږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري،*هغه کسان چي لمونځ قائموي او څه چي مو هغو ته ورکړي دي، له هغو څخه يې(زموږ په لار کښي) لګوي؛*همداسي خلك حقيقي مؤمنان دي. د هغو لپاره د هغو له رب سره لويي درجې دي، له ګناهونو څخه تېرېدنه او ډېره غوره روزي ده.»، ددی ترڅنګ نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ او تاسی ټولو څخه غوښتنه کړي ده چې بايد د الله جل جلاله ذکر بايد هميشه وکړو او مونږ اوتاسي ټول ديته هڅولي يو چې بايد دغه ذکر ترسره کړو همدارنګه پيغمبر صلي الله عليه وسلم پدي هکله فرمايلي دي:چې آيا تاسو ته زه د يو داسی نيک کارونو خبر در نکړم چېډير وره دي او همدارنګه ستاسو درجي هم پر هغه لوړيږي او ددي څخه هم ډير لوړ دي چې تاسو سره زر سپين زر او پيسي هم مصروفوي اوهمدارنګه لدي څخه هم ډير غغوره دی چې تاسو د دښمن سره مخامخ جګړه کوي او تاسو د هغوي څټونه وهي او هغوي ستاسو څټونه وهي؟ صحابه ، وفرمايل ولي نه  اي د الله رسوله مونږ ته ووايه پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هميشه د الله جل جلاله ذکر کوی  دا د ټولو اعمالو خڅه غوره اعمال دي همدارنګه يو سړيپيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغي او ورته يي وويل: چې اي د الله رسوله په ما باندي د اسلامي شريعت کارونه ډير زيات شوي دي نو ماته يو څه وښايه چې په هغه کې ماته ډير اجر او ثواب راپه برخه شي نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هميشه د الله ذکر کوه.

نو د الله جل جلاله ذکر کول خپأه داسی یو عبادت دی چې اندازه یی ډیره لویه ده او آسانه هم دی او فضیلت یي ډیر زیات دی چې د شمیر اندازه یي معلومه نده ځکه چې فضیلتونه یي ډیر زیات راغلي دي چې پدي کې د ابي سعيد خدري حديث دی چې هغه وايي چې معاويه رضي الله عنه په جومات کې حلقه جوړه وه چې را ووتو نو پدي کې هغه وفرمایل چې پيغمبر صلی الله علیه وسلم ويلي دي چې په اعمالو کې غوره عمل همدا ذکر کول دي، همدارنګه باید ددی یادونه وکړو چې د زړونو ژوندي والی هم په ذکر سره راځي او هم الله جل جلاله ته تر ټولو غوره خبري او کلام هم دا ذکر دی چې باید ترسره شي، پدي هکله ابي موسی رضي الله عنه هم یو حديث نقل کړی دی چې پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د هغه چا مثال چې هغه د الله جل جلاله ذکر کوي او د هغه چا مثال چې هغه ذکر نکوي د مړي او د ژوندي په څير دی او پدي کې نور لفظونه د مسلم شريف او نورو کې هم رالي دي چې په هغه کې داسی یو مثال راغلی دی هغه کور چیبه هغه کې د الله ذکر کيږي او هغه کور چې په هغه کې د الله ذکر نکيږي داسی دي ګویا چې ددغه کور خلک ژوندي وي او د هغه بل کور خلک مړه وي ابي ذر رضي الله عنه هم یو حديث رانقل کړی دی چې د پيغمبر صلی الله علیه وسلم څخه يي دا نقل کړي دی چې فرمایلي: یو ورځ پيغمبر صلی الله علیه وسلم راوګرځیدو نوماورته وویل اي د الله رسوله الله جل جلاله ته په کارونو کوم څه ډیر خوښ دي؟ پيغمبرصلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هغه چې الله جل جلاله ملایکو لپآره غوره کړی دی چې هغه دا ذکر دی چې تل باید سرته ورسيږي: **(سُبْحَانَ رَبِّي وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ رَبِّي وَبِحَمْدِهِ)**هدارنګه پدي هکله پيغمبر صلی الله علیه وسلم نور هم بيلابيل حديثونه راوړي دي چې پدي کې د معاذ رضي الله عنه حديث راځي چې پيغمبر صلی الله علیه وسلم ورته فرمایلي وو چې زه تاته داسی یو توصیه کومه چې باید د هر لمانځه څخه

وروسته ذکر وکړي او په ځانګړي توګه ده ذکر(اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ) .
د الله جل جلاله ذکر يواځي دا ندي چې يوازي په جومات کې وشي بلکي په ټولو حالاتو کي مسلمان او بنده کولی شي چې د الله جل جلاله ذکر ترسره کړي او مسلمان ېدي باندی لازمي کړي شوي دي ورباندي چې په هر وقت کې او په هر شکل چې وي د الله جل جلاله ذکر ترسره کړي ېدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمَٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُولِى الْأَلْبَٰبِ* الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ السَّمَٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ» ژباړه:«د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډيري نښاني دي:، چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای يادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غير ارادي توګه غږ کوي چي:) "آې زموږ ربه! دا ټول شيان تا بابيزه او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چي عبث كار وكړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره»، او بيا فرمايي: { وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَر»ژباړه:« او لمونځ قايم کړه. په باوري ډول لمونځ له بدلمنۍ او ناوړو چارو څخه منع کوي، او د الله ياد له دي څخه هم ډېر لوی شی دی» لمونځ ددی لامل ګرځي چي انسان د فاحشو او منکرو کارونو څخه وژغورل شي.
همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم بيلابيل داسی اذکار مونږ ه ښودلي دي چې مسلمان بايد د هغه حرص وکړي ترڅو هغه په ځآن باندي عملي کړي ېدي هکله د ابي هريره رضي الله عنه حديث هم راغلي دی چې هغه فرمايلي دي چې په سهار کې به پيغمبر صلی الله عليه وسلم بيلابيل اذکار سرته رسول لکه: «اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا ، وَبِكَ أَمْسَيْنَا ، وَبِكَ نَحْيَا ، وَبِكَ نَمُوتُ ، وَإِلَيْكَ النُّشُور»او په ماښام کې به يې هم اذکار ترسره کول لکه:«

اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا ، وَبِكَ أَصْبَحْنَا ، وَبِكَ نَحْيَا ، وَبِكَ نموت ، وإليك المصير»
او پدي کې ددی ښودنه کوي چې مونږ او تاسي بايد تل د شپې د ورځې او همدارنګه سهار ماښام غرمه او په هر وخت کې د الله جل جلاله عبادت او ذکر وکړو.
او همدارنګه بيلابيل داسی اذکار شته چې د کور څخه د وتلو په وخت کې او همدارنګه د کورته د داخليدو په وخت کې ويل کيږي لکه چط پيغمبر صلی الله عليه وسلم پدي هکله فرمايلي دي: چې د کور څخه په وتلو وخت کې دغه اذکار وويل شي:« بِسْم اللَّهِ توكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ ، وَلا حوْلَ وَلا قُوةَ إلاَّ بِاللَّهِ ، يقالُ لهُ : هُديتَ ، وَكُفِيت ، ووُقِيتَ ، وتنحَّى عَنْهُ الشَّيْطَانُ»او ام سلمه رضي الله عنه هم پدي هکله بيلابيل حديثونه روايت کړي دي چې وايي کله نبي کريم صلی الله عليه وسلم زما د کور څخه راوتلو نو دغه ذکرويلو پرته به نه وتلو :« **اللَّهُم اني أعوذُ بِكَ أن أَضِلَّ أو أُضَلَّ، أو أَزِلَّ أو أُزَلَّ، أو أَظْلِمَ أو أُظْلَمَ، أو أجهَل أو يُجْهَلَ عَلىَّ**»او همدارنګه نورو صحابه کرامو هم د ذکر د فضيلت په حديثونه روا‌ړي دي چې مونږ او تاسی ټول بايد د هغه په پلي کولو کې ګړندی ګامونه واخلو.
همدارنګه ځيني نور اذکار شته چې د خوراک او څښاک په وخت کې ويل کيږي لکه په اوله کې بسم الله ويل او په آخره کې الحمد لله ويل د عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه څخه روايت دی وايي زه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په زمانه غلام وم نو ماته نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د خوړو په پيل کې بسم الله وايه په ښي لاس يي خوره او د خپلي مخي څخه خوره او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د خوړو په وخت کې دا دعا ويله: (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا ، وَسَقَانَا ، وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ).
بازار ته د داخليدو په وخت کې هم ځيني دعاګاني پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ ته را ښودلي دی او د هغي د لوی اجر او ثواب بيان يي کړی پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي څوک چې بازار ته داخليږي او دا دعا ووايي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ، يُحْيِي وَيُمِيتُ

، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ كُلُّهُ ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، نو الله تعالی به ورته په زرونو نيکيانی وليکي او په زرونو ګناهونه به يي وبخښي او په جنت کې به ورته ځای هم جوړ کړي.
همدرانګه مسلمان چې کله يو څه وګوري او تعجب وکړي نو دا دعا دي ووايي: ما شاء الله لا قوة إلا بالله، الله تعالی فرمايي: وَلَوْلَآ إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا، ژباړه: او کله چې ته خپل بڼ ته ننوتلې، نو په هغه وخت کښې ستا له خولې څخه دا ولې را ونه وتل چې: مَاشَاالله، لا قوي الاباالله (دا هم هغه شی دی چې الله غوښتی دی، د الله څخه پرته بل قدرت نشته)؟ - که ته ما په مال او اولاد کښې له خپله ځانه ټيټ وينې؛ همدارنګه کله چې يو څوک وګوري چې مصيبت پري راغلی نو پخپل ځان باندي دي په پټه سره شکر وباسي پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: که يو مصيبت مو وليد چې په چار راغلی نو دا دعا دي ووايي: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا ، عُوفِيَ مِنْ ذَلِكَ الْبَلَاءِ ، كَائِنًا مَا كَانَ.
همدارنګه مومن مسلمان د سختيو په وخت کې الله تعالی ته رجوع کوي لکه چې الله تعالی فرمايي: «وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِى الظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ الظَّٰلِمِينَ، فَاسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُۨجِى الْمُؤْمِنِينَ» ژباړه: «او موږ د کب څښتن (يونس ع) هم ونازوه، کله چې هغه په غصه تللی ؤ او انګېرلې يې وه چې موږ به هغه مواخذه نکړو. په پای کښې هغه په ترږميو کښې اواز وکړ: "بېله تا څخه بل هيڅ خدای نسته، ستا ذات پاك دی، بېشکه ما کمی کړی ؤ، هله نو موږ د هغه دُعا قبوله کړه او له غم څخه مو وژغوره. او پدغه شان موږ مؤمنان ژغورو»، همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د سختيو په حالاتو کې دا دعا ويله: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

العَظِيمُ الحَلِيمُ ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ، وَرَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ.

دا د اذکارو هغه برخه ده چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم زمونږ لپاره رامنځته کړي ځوک چې ورباندي هميشه والی وکړي په سمه لاره به روان شي او د غفلت او همدارنګه د شيطان ځخه به وژغورل شي الله تعالی فرمايي: «{اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ ذَلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ، وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ}، وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ»، ژباړه: «الله ډېر غوره کلام نازل کړی دی، داسي يو کتاب چي د هغه ټولي برخي يوه بلي ته ورته دي؛ او مضامين په کښي په وارو وارو تکرار شويدي. د هغه په اورېدو سره د هغو خلکو د بدن پر پوستکو لړزه راځي چي د خپل رب ځخه وېرېدونکي دي؛ او بيا د هغو د جسم او د زړه په نرمېدو سره د الله د ذکر خوا ته ميلان کوي. دا د الله هدايت دی، چا ته يې چي خوښه شي په دي سره يې سمي لاري ته راولي. او چا ته چي الله هدايت ونه کړي، د هغه لپاره بيا هيڅ هدايت کوونکی نشته، [اې پيغمبره (ص)!] خپل رب سهار او ماښام، په زړه کښي له زاریٰ او وېري سره، او په ژبه او ورو آواز سره يادوه. ته له دې خلکو ځخه مه کېږه چي په غفلت کښي لويدلي دي، ځوك چي د الرحمان (خدای) له ذکر ځخه ځان په غفلت کښي اچوي، موږ پر هغه باندي يو شيطان مسلطوو او هغه يې ملګری کيږي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو د الله تعالی ذکر د خپل ژوند یو روښ او لاره ګرځولی وه چې په عملی ډګر کې یي په ځان پلي کولو د هغوی ټولنه آباده وه او ددی فکر یي دلود چې الله تعالی د هغوی څارنه کوي او د تیري څخه به یي ځان ساتلو لدي جملی څخه ابوبکر صدیق رضی الله چې کله د قضا چاری حضرت عمر رضی الله عنه ته وسپارلي نو عمر رضی الله عنه یو کال قضا څخه وروسته ولیدل چې هیڅ څوک ورته نه راځي نو بیا یي د ابوبکر صدیق څخه وغوښتل چې له قضا څخه لیري کړي نو اوبکر صدیق ورته وویل قضا دومره سخته ده چې دلیری کیدو غوښتنه له ما څخه کوي؟ نو عمر رضی الله عنه ورته وویل ای د پیغمبر صلی الله علیه وسلم خلیفه او ځای ناستیه! داسي نده خو مسلمانان قضا ته ځکه اوس اړتیا نلری چې هر یو خپل حق پیژني د هېي څخه زیات نه غواړي او واجب هم پیژني کوتاهي پکي نه کوي او هریو د خپل ورور لپاره هغه څه خوښوي چې د خپل ځان لپاره خوښوي څوک چې ورک شي په ګډه ورپسي ووځي څوک ناروغ شي پوښتنه یي کوي څوک بي وزله شي مرسته یي کوي دین نصیحت دی دوی امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي نو په څه به یو بل سره جګړي وکړي؟.

مسلمان بنده که یقینا پخپل زړه کي د الله ذکر وکړ او پخپله ژبه یي ترسره کړ او پخپلو د بدن غړو یي ذکر وکړ د هغه نفس به هرو مرو برابریږي د الله تعالی رضامندي به لاس ته راوړي او الله به یی په رزق کې برکت آچوي غمونه به یی له منځه وړي رحمت او آرامتیا ور په برخه کوي.

ای الله مونږ سره مرسته وکړې چې ستا ذکر او شکر وکړو او په ښه ډول سره ستا عبادت وکړو او زمونږ د ګران هیواد مصر ساتنه وکړي او د نړۍ د نورو هیوادونو ترڅنګ په امن امان او هوساینه کې ولري.